# د ټولنيزو ستونزو په حل کې د علمي څېړنو ونډه، ستونزې او حل لارې

پوهنيار حسيب الله ايازي[1*]، پوهنيار محمدحسين مياخېل[2]

۱- کيميا څانگه، ښوونې او روزنې پوهنځی، فراه لوړو زده کړو مؤسسه
۲- پښتو ژبې او ادبياتو څانگه، ښوونې او روزنې پوهنځی، فراه لوړو زده کړو مؤسسه
اړيکې شمېره: ۰۷۰۶۰۵۹۶۹۴

ايميل آدرس: ayaze۱۳۹۲@yahoo.com

**لنډيز**

د ټولنيزو ستونزو په حل کې علمي څېړنې اساسي او حياتي ونډه لري. علمي څېړنې کولی شي د ټولنيزو، اقتصادي او چاپيريالي مسئلو، خلاوو او ستونزو په پېژندلو او تحليل کې مرسته وکړي، د شواهدو پر بنسټ حل لارې وړانديز کړي، د پاليسيو جوړونکو سره مرسته وکړي، چې غوره پرېکړې وکړي او سرچينې په اغېزمنه توگه په گوته کړي. په دې څېړنه کې د افغاني ټولنې د عمده ستونزو په هکله بحث شوی، تر ټولو عمده ستونزه او خلا دا په گوته شوې چې د هيواد په سطحه د څېړنو د انسجام او تطبيق مرکز وجود نلري. په همدې اساس د هيواد په سطحه د ياد مرکز جوړېدو طرحه د هيواد د څېړنيزو اړتياو په اساس ترتيب شوې، چې په تطبيق سره به يې په هيواد کې ټولې څېړنيزې ستونزې حل ومومي. دغه څېړنه په کتابتوني ډول او تشريحي ميتود سرته رسيدلې او په پايله کې د ستونزې د حل په هکله يوه گټوره طرحه وړانديز کوي، چې د څېړنکو لپاره به څېړنيزو موادو ته لاسرسی، د څېړنو د تکرار مخنيوی او د پاليسيو په جوړښت کې د څېړونکو رول په يو گټور سيستم کې ورسره شامل شي. د دې څېړنې غوښتنه دا ده، چې د څېړنو د انسجام او تطبيق مرکز طرحه منظوره شي څکه، چې د دې طرحې په اساس د هيواد په سطحه د ټولو رسمي او غير رسمي څېړونکو استعدادونو د راټولونې محور او د ټولنې له ستونزو، خلاوو او مسئلو څخه تر پاليسي سازو څېړنو ترسره کولو او د څېړنو د تطبيق پايلو او پايلې بيرته له څېړونکو سره تر شريکولو پورې يوه معنا داره او گټوره دوره رامنځته کيږي.

**کليدي کلمې:** ټولنه، څېړنيزې ستونزې، پاليسي جوړونکې څېړنې، د څېړنوانسجام مرکز، د څېړنو تطبيق

په دې مقاله کې هڅه شوې، چې د ټولنيزو ستونزو په حل کې د علمي څېړنو د ونډې په وړاندې د شته ستونزو او د دغو ننګونو د حل لپاره د حل لارې يو هر اړخيز ليد وړاندې شي. دا بحث به د راتلونکو څېړنو او عملي ګامونو لپاره د يوې پيليزې او بنسټ جوړونې په توګه خدمت وکړي، ترڅو وکولی شو د يوې ښې راتلونکې په لور خپل ګامونه چټک، منسجم او پايله لرونکې کړو.د دې څېړنې په ترسره کولو سره موندل شوي، چې د هېواد په سطحه د يو لوی او غښتلي څېړنيز مرکز نه شتون يوه لويه خلا ده او د دې ستونزې او خلا د ډکولو په هکله د دې مقالې وړانديز شوې طرحه د حل يوازينۍ او اساسي لاره ده، چې په ترسره کولو سره به يې د هېواد ټولې څېړنې مرکزيت او انسجام ومومي او  د تطبيق لپاره به يې لارې خلاصې او د ستونزو په ګوته کولو، د څېړنو د ترسره کولو او د څېړنو د پايلو د تطبيق يو اساسي محور به رامنځته شي.

## بحث او پايله

### د هېواد په سطحه د څېړنيزو چارو د ښه ترسراوۍ عمومي ستونزې

زموږ په هيواد کې د څېړونکو په وړاندې ګڼې ستونزې شته، چې د علمي څېړنو کيفيت او پراختيا باندې اغېزه کوي. په دې هکله ممکن ډېرو څېړونکو مروري او موردي څېړنې سرته رسولي وي او پايلې به يې مختلفو برخو سره شريکې شوې وې، د دې څېړنې په ترڅ کې دا موندل شوي، چې د هيواد په سطحه د څېړنو د انسجام او تطبيق مرکز نه شتون د هېواد د ټولو څېړنو او څېړونکو په مخ کې يوه لويه ستونزه ده، چې شايد دغه ستونزه د پوښتپاڼو په ويشلو او معلوماتو په را ټولولو سره نوره هم جوته، علمي او دقيقه شي، خو د وخت د کمښت او د امکاناتو د نه شتون په صورت کې مخامخ موږ د دې ستونزې په هکله قدرمنو لوستونکو او محترمو مسؤلينو سره خپل تحليل،انديښنه او وړانديز شريک کوو، چې د هيواد څېړنې بايد يو مرکزيت و مومي څېړنې د هېواد د مسلکي ستر کادري شخصيتونو له خوا تر ارزونې وروسته په مربوطه برخو کې د تطبيق تر ځايه تعقيب شي او له تطبيق څخه وروسته يې هم پايلې و ارزول شي، چې په دې سره د څېړونکي او د څېړنې په اساس ترسره شوي کار ترمنځ يوه دوامداره رابطه موجوده شي او د دې رابطې په صورت کې د هرې برخې څېړونکي وکولای شي، چې خپلو څېړنو او پرمختګونو ته په دقيقه او علمي بڼه ادامه ورکړي.

### حل لاره، د هېواد په سطحه د څېړنو د انسجام او تطبيق يو غښتلي مرکز جوړول

دا چې د ټولو څېړنو او څېړنيزو چارو د ښې ترسراوۍ په مخ کې د يو واحد او غښتلي مرکز نه شتون د يوې خلا او ستونزې په توګه وموندل شو، نو د حل لاره يې هم د همدې خلا ډکول او د هېواد د ټولو څېړونکو د څېړنو لپاره د انسجام او تطبيق يو غښتلي مرکز ايجادول او جوړول دي، چې د دې مرکز په ايجاد سره به زموږ ټول څېړونکي د خپل کاري محور په موندلو سره خپلو څېړنو ته په منظمه توګه ادامه ورکړي او د څېړنو پايلې به يې وخت په وخت تر تطبيق لاندې نيول کېږي، دا مرکز به د اړونده برخو څخه په علمي او مسلکي توګه د ستونزو او خلاوو په معلوملو کې دقيقه علمي سروې کوي، تر ستونزو موندلو وروسته به له څېړونکو حل لارې غواړي او ترلاسه شوې حل لارې به تطبيقونکو ادارو او برخو سره شريکوي، د پايلو د تطبيق نتايج به تطبيقونکې ادارې بيرته د څېړنې مرکز ته استوي او د څېړنې مرکز به يې د ښه والي او ناښه والي ارزونه کوي او بيرته به څېړونکي ته خپله ارزونه وړاندې کوي، چې په دې سره به د څېړنو د تطبيق لپاره يوه معنا داره پروسه رامنځته شوې وي او دا به د هيواد د هر اړخيز پرمختګ لپاره يوه اساسي کاري دستګاه وي او ټولې برخې به په علمي، منطقي، مسلکي او دقيقو څېړنو سره تر خپل چتر لاندې نيسي او هيڅ علمي او څېړنيزه برخه به يې تر نظارت لرې نه پاتې کېږي، دا مرکز به هم د هيواد رسمي څېړونکو ته چې استاذان او د مختلفو علمي برخو کار کوونکي دي، د څېړنو زمينه سازي کوي او هم به غير رسمي څېړونکي ځان سره رسمي کوي که هغه د هيواد داخل کې دي او که بهرنيو هيوادونو کې اوسيږي، د دې مرکز سره به اړيکه

لري او دا مرکز به يې څېړنې، وړانديزونه او طرحې په غور سره اوري، دقت به پرې کوي او د هرې برخې د متخصيصنو تر کتنې او ارزونې وروسته به يې پايلې تر تطبيق لاندې نيول کېږي.

**د څېړنو د انسجام او تطبيق مرکز د طرحې وړانديز**

د نن ورځې په ګړندۍ بدليدونکې نړۍ کې، علمي څېړنې او نوښت د هر هيواد د پرمختګ او سيالۍ لپاره لوی حياتي ارزښت لري. زموږ ګران هيواد ډېر لوی علمي استعدادونه او ظرفيتونه لري، چې بايد را وسپړل شي او د دوی له علم، نوښت، استعداد او وړتيا څخه د هيواد په پرمختګ او سوکالۍ کې ګټه واخيستل شي. څرنګه چې تر اوسه په هيواد کې داسې لوی څېړنيز مرکز شتون نه لري او په دې اړه کومه کړنه او نوښت نه دی تر سره شوی، ټولې علمي څېړنې يوازې د کاغذ پر پاڼو پرتې دي او تر ډېره حده عملي ډګر ته نه رسيږي بناء د دې مرکز په جوړېدو سره به افغان څېړونکو ته د پرمختللو څېړنو د ترسره کولو زمينه برابره شي، د مختلفو برخو علمي څېړونکي به په يو ميز سره راټول، د خپلو تجربو په واسطه به د هيواد ځانګړو ستونزو ته به په ګډه سره د حل لاره ومومي او دا کړنه به د پوهنتونونو، صنعت او تکنالوژۍ او دولت تر منځ د همکارۍ لپاره يو پل جوړ کړي.

د څېړنو دا مرکز به د نړۍوالو څېړنيزو ادارو سره تعامل وکړي او د دوی همکارۍ به راجلب کړي، پاليسي جوړونکو ته به اړين معلومات برابر کړي تر څو د هيواد ځانګړو ستونزو ته سيمه ييز او اغيزمن حلونه رامنځته کړي. د څېړنو په پايله کې به په هيواد کې نوي صنعتونه او کاري فرصتونه رامنځته شي او په نتيجه کې به يې د هيواد اقتصادي وضعيت برابر او صنعتي سکتور به له خپلو محصولاتو، توليداتو او طبيعي زيرمو څخه پياوړی شي. په مختلفو کرنيزو، روغتيايي، چاپېريالي او انرژيکي برخه کې به د هيواد ستونزو ته د حل لارې وموندل شي او همدارنګه هيواد به د څېړنو په برخه کې نړۍوال اعتبار تر لاسه کړي.

د يو ملي څېړنيز مرکز جوړول به د هيواد د پرمختګ او ځان بسياينې لپاره يو ستراتيژيک ګام وي. دا به نه يوازې د علمي او ټکنالوژيکي پرمختګ لامل شي، بلکې د هيواد ټولنيز او اقتصادي وضعيت به هم ښه کړي. که څه هم دا يو اوږدمهاله پروسه ده، خو پايلې به يې د راتلونکو نسلونو لپاره ارزښتناکې او جوړيدل به يې د هيواد د روښانه راتلونکي لپاره يوه لويه پانګونه وي.

**د څېړنيز مرکز د دندو لايحه**

دا ملي څېړنيز مرکز به د دندو مشخصه لايحه لري، چې په واسطه به يې د هيواد څېړنيز حالت د څارنې لاندې لري، د څېړنو د انسجام لپاره به واضح طرزالعمل په لاس کې لري او د هيواد د پرمختګ په عمده او اساسي موضوعاتو به تمرکز لري. د ياد مرکز د دندو لايحه به په لاندې ډول وي:

١. په هيواد کې شته ستونزو ته په کتو سره د نويو څېړنيزو موضوعاتو پېژندل او لومړيتوب ورکول؛
٢. د څېړنيزو پايلو ارزونه او خپرول؛
٣. د څېړونکو راجلبول، ګمارل او روزنه؛
٤. څېړونکو ته د څېړنې موادو، څېړنيزو دستګاوو او اړينو توکو برابرول؛
٥. د په مرکز او زونونو کې د ايديټريومونو جوړول او له لارې يې د عامو وګړو سره د څېړنيزو پايلو شريکول او د څېړنو په هکله عامه پوهاوی؛
٦. د داخلي او بهرنيو لنډمهاله او اوږدمهاله تخصصي زده کړو پروګرامونو جوړول؛
٧. د څېړنيزو مهارتونو د لوړولو ورکشاپونه جوړول؛

۸. د څېړنيزو پروژو پلان جوړول او تطبيق؛
۹. په مرکز او زونونو کې د مجهزو څېړنيزو لابراتوارونو جوړول او ساتنه؛
۱۰. معلوماتي ټکنالوژۍ ته د متخصصو کسانو په واسطه وده او پراختيا ورکول؛
۱۱. د مالي دولتي او نړۍوالو سرچينو (فنډ) راجلبول؛
۱۲. له نړيوالو څېړنيزو ادارو سره اړيکې جوړول؛
۱۳. د صنعت او پوهنتونونو سره د همکارۍ پروگرامونه جوړول؛
۱٤. په نړيوالو څېړنيزو پروگرامونو او پروژو کې ګډون کول؛
۱۵. د اختراعاتو او نوښتونو ثبتول او د مخترعينو تشويق او حمايت کول؛
۱٦. د فکري ملکيت حقونو ساتنه؛
۱۷. د لګښتونو څارنه او راپور ورکول؛
۱۸. اړونده اداراتو ته د څېړنيزو پايلو خپرول او د څېړنو د پايلو د تطبيق تعقيب او نظارت کول؛
۱۹. د ملي او نړۍوالو علمي کنفرانسونو او سيمينارونو جوړول؛
۲۰. د هيواد په سطحه د عامه پوهاوي پروګرامونه جوړول؛
۲۱. د څېړنيزو معيارونو جوړول او پلي کول؛
۲۲. د څېړنيزو پروژو منظمه څارنه او ارزونه؛
۲۳. په څېړنه کې د نړيوالو معيارونو رامنځته کول؛
۲٤. د څېړنيزو اخلاقو کميټې جوړول؛
۲۵. د لنډ مهاله او اوږدمهاله موخو ټاکل او پلان جوړونه؛
۲٦. د عملياتي پلانونو جوړول؛
۲۷. د پرمختګ منظمه ارزونه او راپور ورکول؛
۲۸. مشرتابه ته د پرمختګونو او ستونزو په اړه راپور ورکونه؛
۲۹. ټول هغه فعاليتونو چې د مشرتابه له لارې ورته سپارل کيږي او يا د هيواد په قانون کې وجود ولري.

پورته لايحه به د اړتيا له مخې او د وخت په تيريدو سره تعديل او پراخه کيږي، چې په پايله کې به د مرکز د اغيزمن فعاليت او ملي موخو ته د رسيدو لپاره ښه لاربښود وي.

**د څېړنيز مرکز تشکيلات**

څرنګه چې دا څېړنيز مرکز په ملي سطحه د هېواد راتلونکي جوړونکی مرکز دی او له دې لارې به هيواد د نړۍ له پرمختللو هيواد سره سيال جوړيږي نو په دې اساس د دې مرکز تشکيلات بايد په ډېر تدبير سره ترتيب شي او ټولې هغه څانګې چې د ټولنې د اړتياوو پوره کولو لپاره اړينې دي، پکې فعاله او د رهبرۍ لپاره يې متخصص او په کار پوه کسان وګومارل شي. ځينې اساسي برخې چې د ياد مرکز بنسټ تشکيلوي په لاندې ډول دي:

۱. د څېړنې د انسجام او تطبيق ملي مرکز رئيس
۲. د څېړنو د راټولولو، ارزولو او انسجام معاونيت
۱) د طبيعي علومو څانګه

۲) د طبي علومو ځانګه
۳) د انجنیري او تکنالوژي ځانګه
٤) د کرنیزو علومو ځانګه
۵) د ټولنیزو علومو ځانګه
٦) د چاپېریالي علومو ځانګه
۷) د اقتصادي علومو او سوداګریزه ځانګه
۸) د څېړنېزو لابراتوارونو آمریت
۹) د معلوماتي تکنالوژۍ ځانګه
۱۰) د کتابتون او معلوماتو ځانګه

۳. د پالیسۍ جوړولو معاونیت
۱) د پالیسي جوړونې آمریت
۲) د پالیسۍ ورکولو او تطبیق آمریت
۳) د پالیسیو له تطبیق نه د څار آمریت

٤. د پلټنو او نړۍوالو اړیکو معاونیت
۱) د پلټنو عمومي مدیریت
۲) د کیفیت د تضمین مدیریت
۳) د نړۍوالو اړیکو او همکاریو مدیریت
٤) د پروژو د تطبیق مدیریت

۵. د مالي او بشري سرچینو معاونیت
۱) د بشري سرچینو او انسجام مدیریت
۲) د څېړونکو د ګمارنې مدیریت
۳) د آرشیف او ساتنې مدیریت
٤) مالي او محاسبې چارو مدیریت
۵) د تدارکاتو مدیریت
٦) د عامه اړیکو مدیریت

همدارنګه دا څېړنیز مرکز به یوه علمي شورا ولري، چې غړي به یې په لاندې ډول وي:

۱. د څېړنیز مرکز رئیس د علمي شورا غونډې مشر
۲. څلورګونه مرستیالان
۳. د وزارتونو او اړوند ادارو استازي( لوړو زده کړو، پوهنې، اقتصاد، کانونو او صنایعو، کرنې، اطلاعاتو او کلتور، مخابراتو او معلوماتي تکنالوژي، نفت او پترولیم، عدلیې، فواید عامې وزارتونو، د بریښنا شرکت، چاپیریال ساتنې ادارې، ملي استندرد ادارې، اتومي انرژۍ ادارې او نورو اړونده ادارو)
٤. د پوهنتونونو استازي (په آنلاین یا حضوري ډول)

٥. د خصوصي سکتور استازي
٦. نړیوال کارپوهان
٧. عام څېړونکي

## د څېړنيز مرکز کاري محورونه

دا چې ملي څېړنيز مرکز به د هيواد ځانګړې ستونزې راسپړي او د څېړونکو له څېړنو او پاليسي جوړونکو له لارې به ورته د حل مناسبې لارې مومي نو په همدې اساس د دې څېړنيز مرکز کاري محورونه به د هيواد د اړتياوو، لومړيتوبونو او راتلونکي ليد پر بنسټ ټاکل کيږي. دا محورونه به د څېړنې او پراختيا هغه ساحې وي، چې مرکز به پرې تمرکز کوي. د محورونو اصلي موضوعات به د هيواد د اساسي ستونزو حل، د کاري فرصتونو ايجادول، د صنعت او تکنالوژۍ پرمختګ، روغتيايي او چاپېريالي تغيراتو حل او دځان بساينې په لور ګامونه اخيستل وي. د هيواد لپاره د څېړنيز مرکز کاري محورونه کيداى شي لاندې برخې ولري:

١. کرنه او د خوراکي توکو خونديتوب
٢. روغتيايي او طبي علومو او تکنالوژي پرمختګ
٣. انرژي خودکفايي او طبيعي سرچنيو تکنالوژي پرمختګ
٤. د معلوماتي تکنالوژي پرمختګ
٥. چاپيريال او اقليم بدلون
٦. فرهنګ او د ټولنې وګړو عامه پوهاوی
٧. ټولنيز او اقتصادي پرمختګونه
٨. ملي امنيت او دفاعي تکنالوژي پياوړتيا
٩. د صنعت او توليد پراختيا او د طبيعي زيرمو صحيح استخراج
١٠. د زيربناوو پلان جوړونه او د ترانسپورت پراختيا
١١. د ژبو او ادبياتو پياوړتيا او خونديتوب

## پایله

څرګنده خبره ده، چې د انساني پرمختګونو لپاره په هره برخه کې علمي څېړنې او لټونې په کار دي او د بشر ژوند چې له پيله تراوسه څومره انکشافات لري، دا ټول د څېړنو او موندنو په اساس شوي دي، زموږ هيواد چې څو لسيزې متواترو جګړو د پرمختګ له چارو وروسته کړی، د هراړخيز بدلون او پرمختګ لپاره په هره برخه کې د څېړنو او پرمختګونو رامنځته کولو ته اړتياوې لري، دا چې دغه د پرمختګ بهير څه ډول پرمخ يوړل شي، يو نظم او برنامې ته اړتيا لري، دغه ګټور سيمينار چې افغان نړيوال اسلامي پوهنتون په پلازمېنه کابل کې پرلاره اچولی د همدې هدف يوه اساسي برخه ده، چې د هيواد د څېړنو او څېړونکو د ستونزو او خلاو په هکله يې علمي او مسلکي څېړنې غوښتې دي او غواړي، چې دا بهير په ښه ډول پرمخ ولاړ شي، چې دغه څېړنيزه مقاله د همدې سيمينار د غوښتنې په اساس سرته رسيدلې، د دې څېړنې پايله دا راښايي، چې زموږ په هيواد کې د ټولو څېړنو د انسجام او تطبيق مرکز جوړولو ته اړتيا ده، دغه د څېړنو د انسجام او تطبيق مرکز که رامنځته شي او په منظمو تشکيلاتو او ماهرينو سمبال شي، نو د هيواد د ټولو څېړنکو لپاره به د اميد يو محور رامنځته شي او هر يو څېړونکی به په ډاډه زړه خپلې څېړنې سرته رسوي او پايلې به يې ياد مرکز تطبيقونکو ادارو سره شريکوي او تر تطبيق وروسته به يې نتايج څېړونکي سره د نورو پرمختياوو په هکله شريک کيږي، په دې سره به د څېړنو د ترسره کولو او تطبيق په برخه

کې یو فعال سیستم منځ ته راشي او د هیواد د هرې برخې د علمي او مسلکي انکشاف معنادار یون به پیل شي او د الله تعالی په نصرت سره به په لږ وخت کې دېرې هوساینې زموږ، نظام، هیواد او کړیدلي ولس ته په برخه کړي او دا ارزښتمن بهیر به په دوامدار سیستم کې د نورې نړۍ د پرمختګونو سره اوږه په اوږه زموږ ملت سیال او روان کړي، د همدې ورځې په هیله.

**وړاندیزونه**

د دې څېړنې موندنو او اهمیت ته په کتو او د هیواد د روښانه راتلونکي لپاره لاندې وړاندیزونه کیږي، چې په عملي کیدلو سره به یې هیواد د پرمختګ په لور یون په منظم او پایله وروکونکی ډول ترسره کېږي.

١. د هیواد په سطحه د څېړنو د انسجام او تطبیق مرکز لپاره د ځای انتخاب، د پرسونل استخدام، د لوازمو تهیه کول او ټولې بشري، فزیکي او معنوي اړتیاوې یې پوره کول؛
٢. د هیواد د ټولو څېړونکو د څېړنیزو برنامو لپاره په یاد مرکز کې بشپړه زمینه برابرول؛
٣. د یو میز تر شا د هیواد ټولو څېړونکو راټولول او دوی ته د لازم کاري چاپیریال برابرول؛
٤. د ټولو پالیسي تطبیقونکو ادارو او څېړنو انسجام او تطبیق مرکز ترمنځ د دوامدارې کارې اړیکې رامنځته کول؛
٥. د هیواد په زونونو کې د یاد مرکز لپاره د چارو د انسجام دفترونه فعالول؛
٦. د څیړونکو حمایت کول او د دوی ټولې مادي او معنوي غوښتنې مرفوع کول؛
٧. د څیړونکو د علمي ظرفیت لوړولو لنډمهاله او اوږدمهال برنامې په لاره اچول؛
٨. د څېړنو د تطبیق په موخه د منظمې پالیسي ترتیبول، د تطبیق صلاحیت یې یوازې همدې مرکز ته ورکول او له دې لارې راټول شوي عایدات بیرته په همدې مرکز کې مصرفول؛
٩. په دې مرکز کې داسې پلان جوړونه چې په واسطه یې د هیواد څیړونکي د نړۍوالو څیړونکو لست ته شامل او د نوبل او نورو علمي جایزو ګټونکي شي؛
١٠. په لومړیو وختونو کې د لوړو علمي امکاناتو او دستګاوو د نشتون په صورت کې د ګاونډیو هیوادونو لکه چین، ایران او... له لوړو پوهنتونونو سره اړیکه جوړول او د دوی له علمي او تکنالوژیکي امکاناتو استفاده کول؛
١١. د هیواد په مرکز او یا زونونو کې د عمومي ایدیتریومونو جوړول او عامو وګړو ته د نړۍ د پرمختللو څېړنو، داخلي څیړونکو څېړنیزو لاسته راوړنو او نویو کشفیاتو ارایه کول.